# د فاټا د آئیني کمیټۍ قیام او قبائیلي عوام

فیروز خان صادق

په یوولسم نومبر ۲۰۱۵ د پاکستان وزیراعظم ښاغلي محمد نوازشریف یوه کمیټۍ په دې غرض جوړه کړه چې د قبائیلي سیمو د مسئلې هوارولو دپاره خپل تجویزونه او حامد د خیبرپښتونخوا موجوده ګورنر سردار مهتاب احمد خان او د ښاغلي ناصرجنجوعه نومونه شامل دي. سرتاج عزیز ئې چیئرمین او نور څلور واړه ئې ممبران دي. د دې کمیټۍ د



سفارشونه حکومت ته وړاندې کړي. په دغه کمیټۍ کښې د وزیراعظم د خارجه چارو صلاح کار سرتاج عزیز د قبائیلي چارو وفاقي وزیر عبدالقادر بلوچ د قانون پخوانے وفاقي وزیر زاهد جوړولو بنیادي مقصد د قبائیلي اولس غوښتنې پوره کول او په تېره تیره د ایف سي آر قانون کښې ترمیم او د صوبې سره د ضم کولو یا د جدا حیثیت جوړولو په لړ کښې فېصله کول دي. خو

هر کله چې دغه نومونه مخې ته راغلل نو د قبائیلي اولس له خوا ئې په مخالفت کښې تحریک شروع شو او په مختلفو ځایونو کښې د بیلا بیلو مذهبي او سیاسي ګوندونو او غیر سرکاري تنظیمونو له اړخه د دغې کمیټۍ په غړو اعتراضونه او شکایتونه شروع شوي چې د ټولو نه اهمه خبره پکښې دا ده چې د قبائیلي اولس اعتراض دے چې د دغې کمیټۍ ټول غړي غیر قبائیل دي چې د قبائیلي اولس په دود دستور جرګه مرکه او ان تر دې چې په ژبه هم نه پوهیږي ځکه نو د دغې کمیټۍ غړي دا صلاحیت نه لري چې د قبائیلي اولس په مسئلو منصفانه رائې قائمه کړي او یا سفارشات مرتب کړي په دې لړ کښې د آل فاټا سیاسي اتحاد فاټا لائرنز فورم او یو شمېر نورو سیاسي ګوندونو خپل عکس العمل ښودلے دے. او په دغه ټاکلې کمیټۍ ئې اعتراضات کړي دي او د خپلو تحفظاتو څرګندونه ئې هم کړې ده.

د آل فاټا سیاسي اتحاد مشر اخون زاده چټان وئیلي دي چې پکار ده چې وزیراعظم په دغه کمیټۍ کښې قبائیلي پوهان او د خېبر پښتونخوا سیاسي مشران شامل کړے وے. په دې لړ کښې هغه مطبوعاتو سره په خبرو اترو کښې د عوامي نیشنل پارټۍ مشر اسفندیار ولي خان د جمعیت علماء اسلام مشر مولانا فضل الرحمان د جماعت اسلامي امیر سراج الحق او د داسې نورو مشرانو نومونه اخستي دي او وئیلي ئې دي چې دغه مشران د قبائیلي دود دستور نه خبر دي. د پاکستان د آئین څخه هم اګاه دي د پښتنو په دود دستور هم پوهیږي. بیا د دغو یادو شوو مشرانو سیاسي اثر و رسوخ او شناخت هم شته. په قبائیلي سیمو کښې ئې سیاسي مقام هم شته او داسې نور ګڼ اړخونه دي چې د هغو په بنیاد مونږ دا وئیلے شو چې د خېبرپښتونخوا سیاسي مشران د فاټا دا مسئله په خپل بصیرت او سیاسي پوهې ډېره په آسانۍ سره هوارولے شي.

ښاغلي اخون زاده چټان دا تور هم لګولے دے چې په دغه کمیټۍ کښې شامل ټول ممبران د پنجاب د مفاداتو دپاره کار کوي او ټول د حکومت نمائندګان دي ځکه نو د دوي فېصله به هم د حکومت په حق کښې وي او قبائیلي اولس به هم دغسې محروم او محکوم ژوند تیروي.

د دې سره سم د آل فاټا سیاسي اتحاد د حکومت د دې کمیټۍ خلاف تحریک شروع کړے دے او دا لوظ ئې کړے دے چې دا تحریک به تر هغه وخت پورې دوام لري تر څو چې د دوي غوښتنې منلے شوي نه وي. د دې سره سره د فاټا د لائرز فورم مشر اعجاز مومند هم د دغې کمیټۍ مخالفت کړے دے او اعلان ئې کړے دے چې د دغې کمیټۍ هیڅ یوه فېصله به قبائیلي اولس

ونـه مـنـي او د حکومت خلاف به خپله احتجاجي مبـارزه هـم دغسې روانـه سـاتـي او تر هغه وخت پورې به متحرک وي تر څو ئې چې قبائيلي اولس تـه خپـل حق نـه وي ورکړے. هـم پـه دې سلسله کښې تيـره ورځ پـــه پېښـور کښې د قبـائيـلـي خـوئيـنـدو يوه احتجاجي مظاهره شوې ده او ټولو مېـرمـنو په شريکه د حکومت څخه غوښتنه کړې ده چې قبـــائيـــلــي سيـــمې دې پـــــه صـــوبــــه خيبـرپښتونخوا کښې شامل کړے شي. ځکه چې مـونږ ټول يو پښتانه يو يو رسم و رواج او يوه ژبه يـو کـلتـور يـوه مضبوطه رشته او نه بېلېدونکي تـعـلـقـات لرو نو په دې اساس مونږ ټول قبائيل د خېبرپښتونخوا سره د يو ځائې کېدو په حق کښې يـو او د دې نه علاوه به بله يوه فېصله هم قبوله نه کړي.

د دغـو هـلـو ځلو څخه معلومه شوه چې د قبـائيـلـي اولس اکثريت د صوبه خېبرپښتونخوا سـره د شـامـلېـدو په حق کښې دے او غواړي چې مـونږ د صـوبې د نـظـام برخه شو او قبائيلو ته په صـوبـائـي اسـمبـلۍ کښې نمائندگي هم ورکړے شـي. د دې بـــاوجـود يـوه بلـه ډلـه هم شتـه چې د پـخـوانـي ايـم ايـن اے حـميدالله جان آفريدي په مشـرۍ کښې جوړه شوې. دا د هغوي موقف د دې خلاف دے هغوي د بېلې صوبې او ځان ته حيثيت پـه حـق کښې دي او يــو مـعـمولي تعداد قبائيلي اولـــس د نـورو رايـو پـــه طرف دے او غواړي چې قبـائـيـل ځان ته صوبه جوړه کړے شي او دغسې د قبـــائيـلــو د خپـل ميـنـځـي اختلافـاتـو او د ذاتي مـفـاداتـو پـه وجه دا اهمه مسئله تر اوسه پورې د هـواري طـرف تـــه نۀ ده نـزدې شوې او نـه ئې پـه راتلونکي نزدې وخت کښې کوم اثار شته.

پـه داسې حـال کښې دا ډېره گرانه خبره ده چې د وزيـراعـظـم نوازشريف له اړخه جوړه شوې کـميټۍ دا مسـئله په آسانه سره حل کړي دلته دا خبـره هـم د ذکر وړ ده چې د باجوړ نه د مسلم ليگ (ن) د قـومـي اسمبلۍ ممبر شهاب الدين خان هم په دغه کميټۍ د خپلې بې باورۍ څرگندونه کړې ده او د حـــکـــومـت د دغې پـــاليسۍ خـلاف ئې د احتـجـاج په توگه خپله استعفى هم وړاندې کړې ده. دۀ پـه خپـلـه يـوه مرکه کښې دا حقيقت هم په ډاگـه کړے دے چې د وزيراعظم له خوا جوړه شوې کـميټۍ کښې د خيبـرپښتـونـخوا گورنر مهتاب احمد خان اهم غړے دے او دۀ ما ته څو واره په ډاگه دا خبـره کړې ده چې زۀ د ايف سي آر قانون کښې تـرمـيـم کـولو او قبائيل په خېبرپښتونخوا کښې ضـم کـولـو ته تيار نه يم. نو هر کله چې دا دومره اهـم ذمـه وار مـمبـر او د قبـائـيـلي چارو نگران په خپله د قبائيلي اولس غوښتنو منلو ته تيار نه وي نـو دا کميټۍ به څنگه دا اهمه مسئله په منصفانه ډول حل کړي؟

هـم دغـه وجـه ده چې د وزيـراعظم له خوا جـوړه شـوې کـميټې د شـروع نه متنازعه شکل اختيـــار کړې دې او دا ګــمـــان نـــه کيږي چې وزيـراعـظم به د دغه کميټې په ذريعه خپل هدف تـرلاسـه کړي بـلکې دا خطره موجوده ده چې د دې کميټې کومه فېصله د لوئې انتشار او فساد جرړه وګـرځـي او قبـائيـلـي عـوام هم دغسې مظلوم او مـحـروم پـاتې شي. د شهاب الدين خان دغه مرکه چې د يـو غيـر مـلـکي ريډيو سره ئې کړې وه ډير اهـميـت لـري او په دې حقيقت دلالت کوي چې په خپله حکومت هم په دې معامله د اختلافات ښکار دې. او کــه چـرې دا صـورت حـال برقرار وي نو د حـکـومت دپاره به ډيره ګرانه وي چې دا فېصله په آسانۍ سره وکړې شي.

د قبـائيلي مشرانو لخوا دا غوښتنه هم په تواتر سره کيږي چې د قبائيلي خلقو مسئله بايد د قبائيلي سپين روبو او مختلفو قومي مشرانو او د قبـائيلي چارو د پوهانو په ذريعه حل کړي. او يوه داسې فېـصله وکړي کومه چې ټول قبائيلي اولس تـه د قبـوليـت وړ وي او د هـرې سيمې قبائيـل په اعتــمــاد کښې واخستې شـي ځـکـــه چې دا قسم فېـصـلې د يـو قـام او ملک په راتلونکي وخت او نسلونو ډير زيات اثرات مرتب کوي نو ځکه داسې فېصلې په عجلت او متنازعه ماحول کښې هر ګز نـــه دي کـول پـکـار بـلـکې د دې قسم فېصلو نـه وړانـدې د دې هـر اړخيـز جاج اخستل پکار دي او داسې ګـامـونـه پـورتـه کـول پـکار دي چې هغه د اولسـونـو په ګټه اتفاق او ترقۍ تماميږي دلته دا خبـره هـم د ذکـر وړ ده چې پــه مـوجوده سخت او سـنګيـن وخـت کښې زمـونږ د قبـائيلي اولـس د مذهبي،قومي او سياسي مشرانو په اوږو هم درنې ذمـه وارۍ پريوځي. ځکه چې د هغوي د منصفانه کـردار نـه بغير دا مسئله په هيڅ صورت کښې نه شـي هـوارېـدې. نـو پــه داسې حـال کښې زمونږ قبائيلي مشرانو مذهبي پوهانو،عالمانو،خطيبانو، دانشـورانو،قومي سپين روږو،صحافيانو او د قلم قبيـلې خـاوندانو او هر قبائيلي وګړي ته پکار دي چې را وړانـدې شـي او د خپـل قـوم د روښـانـه او تـابـانـه مستـقبل په خاطر د دوي دپاره يوه داسې فېـصـلـه وکړي چې دوي تـه په هر لحاظ سره ګټه ورسـوي. د دوي پـه رسـم او رواج هـم اثر انداز نه شـي. د دوي اسـلامـي او پښتـنـي حيثيت تـه هم نـقصان ونه رسي. او د دوي ترمېنځه د بې اتفاقۍ او اختـلاف مسـئـله هم پيدا نه کړي او په افهام او تـفهيـم سره په مستقلو بنيادونو دا مسئله هواره کړې شـي دلتـــه دا خبـره هـم بايد وکړې شي چې قبائيلي اولس ته د ټولو نه زيات نقصان پولټيکل نظام رسولې دې او دايف سي آر تور قانون چې هم د پـولټيـکـل ايجنټ په ذريعه لاګو کيږي هم دغه قـانون د قبائيلي اولس د غاړې زنځير او د لاسونو

هتـکړی دي. هـم د دې تـور قانون د لاسه دوي په اور کښې ژوند تيروي. هم دا نظام دے چې قبائيل ئې بـغـاوت او بـدلـون ته مجبور کړي دي او نن دا دے دا تـحـريک په قومي کچ پرمختګ کړے دے او د قبائيلي اولس اواز اوس صرف د مقامي جرګو او جلسو پورې محدود نه دے پاتې شوے بلکې د ګـورنـر د مـانۍ نـه تـر د صـدارتـي محل پورې غځيدلے او رسيدلے دے او د پاکستان تاريخ کښې پـه اول ځـل داسې يـو قومي قبائيلي تحريک سر راپـورتــه کړے دے چې هـغـوي د خپلو حقونو او غـوښتـنـو دپـاره پــه قـومي او بين الاقوامي کچ مبارزه پيل کړې ده او دا لوظ ئې کړے دے چې تر څـو پـورې ئې خپل مرام ترلاسه کړي نه وي نو تر هـغـه وخـت پـورې بـه پـه قـلار نه کيني. دا هم د قبـائيـلـي اولـس نيـکـمرغي ده چې په دې سخت وخـت کښې ورسـره د پاکستان مختلف مذهبي او سيـاسـي ګـونـدونه او غير سرکاري تنظيمونه هم مـلـګـري او مـلاتړي دي ځـکـه چې قبائيل د خپل آئيـنـي،قـانـونـي،انسـانـي او قومي حق دپـاره راپـاڅيدلي دي او په يوه خله ئې آواز پورته کړے دے چې د خپل ځان او خپل قام د مستقبل دپاره به د خپل تقدير فيصله په خپله کوي.

پــه دې لړ کښې د دغـو ګوندونو له اړخه د ملک په مختلفو برخو کښې وخت په وخت جرګې او سيـمـيـنـارونه جوړيږي. د کومو بنيادي مقصد چې د قبائيلي اولس سره يو والے او دوي ته د خپل طـرف نــه مـرستـــه ملاتړ ورکول دي. او پـه دغو غـونډو کښې چې تـراوسه پورې څومره وينا شوې ده او فيـصلې ئې کړې دي نو هغه ټولې د قبائيلي اولـس د زړۀ اواز دے. ورسره د مختلفو رسنيو له اړخـه هم وخت په وخت د فورمونو او سيميناورنو اهتمام هم کيږي اداريې او کالمونه ليکلے شي چې زيـات زور په خيبرپښتونخوا کښې د قبائيلو ضم کـولـو بـاندې ورکولے شي ځکه چې دوي پوهيږي چې دا د اکثـريـت غوښتنه ده او د قبائيلو د ضمير اواز دے. نـو پــه داسې حــال کښې بـه يقيناً چې قبائيلي اولس د خپل سباؤن په خاطر يوې نتيجې تـه ضـرور رسـي او د خپـل مستـقبـل په حقله به بهتـره او مـوثـره فيـصله کوي او خپل راتلونکي نسـلونه به د دې پرېکړې په خوږو او ثمراتو موړوي ځـکــه چې د نـن فيـصـلــه بـه د سبا پـه حالاتو او واقـعـاتو اثر پريباسي او د قبائيلي اولس د زړۀ او ضمير اواز به جوړيږي.

دلته يوه بله اهمه خبره هم يادول ضروري دي او هـغـه د قانوني ماهرانو رائې ده په خصوصي تـوګه د قبائيلي سيمې وکيلان او قانون پوهان په دې لړ کښې ډيـر مهـم او مثبـت بـلـکې موثر رول لوبولے شي او د دې مسئلې هواري کښې به د دوي کـردار تـه اهـميـت ورکـولـے شي نو په داسې حال کښې دغـو پـوهـانـو تـه خاموشي نۀ ده اختيـارول

پکار بلکې دوي د قانون ترمخه د قبائيلي اولس دا اهـمـه قـومـي مسـئله هوارول پکار دي او د خپلو صـلاحيتـونـو څـرګـندول د دوي قومي او قانوني فرض جوړيږي.

بـل طرف ته موجوده حکومت له هم پکار دي چې د قبـائـيـلـي اولـس غوښتنې په نظر کښې وسـاتـي او د دې غـرض دپـاره چې کـومـه کميټي تـاکل شوې ده او بيا د قبائيلي اولس له اړخه پرې کـوم اعتـراضـات او تـحفظات ښودل شوي دي نو بـايد د هغو ازاله وکړي او دغه کميټي په هر لحاظ سره مناسبه او موزون جوړه کړي او متنازعه غړي ترې وباسي داسې کسان پکښې واخستے شي کوم چې د پـوهې سـره بې داغه ماضي او غير متنازعه حيثيـت ولـري او يـوه تـاريخي او ګټوره فېصله وکړي چې د پـاکستـان دننه قبائيل د نورو سيمو د اولـس غـوندې پرامن او د سوکالۍ ژوند تير کړي او د مـايـوسۍ او مـحـرومۍ د ولقې څخه ووځي. ځـکه چې دا خبرې هم کيږي چې که چرې حکومت غـم دغسې خپل دريځ برقرار وساتلو او د قبائيلي اولـس تـحـفـظـات او غوښتنې ئې د منلو وړ ونۀ ګڼـلې نو دوي د ګاونډي هېواد افغانستان طرف ته هم سترګې نيولي دي. په دې وجه زمونږ حکومت لـه يـوه منصفانه فېصله کول پکار دي چې نور په مـلـک کښې دا اختـلافــات او د قبــائـيـلـي اولـس محرومي له مينځه لاړه شي. او د دسمبر په لسمه چې د وزيـراعـظـم تـاکل شوې کميټي کومه اهمه غـونډۀ کوي په هغې کښې بايد دغه ټول تحفظات او حـالات وڅيړي او خپل کردار په منصفانه توګه ثـابـت کړي دا به د دغې کميټۍ تر ټولو لويه ګټه او کاميابي وي په بل صورت کښې به دغه کميټي پـه هـم دغسې متنازعه پاتې وي او دا توان به ونه لـري چې د قبائيلو په حقله څه اهمه فېصله وکړي او د قبـائـيـلـي خـلقو او حکومت ترمينځه به دغه کميټي يو متنازعه مسئله جوړه شي.

اوس هـم وخت دے پکار دي چې وزيراعظم مـحـمـد نـوازشـريف پـه دې اهـمه مسئله د ټولو سيـاسـي او مـذهـبـي ګوندونو او قبائيلي مشرانو شريکه غونډۀ راوبلي او په يو اتفاق او خوشحالۍ سـره د فـاټا د اولس او حيثيت په اړه داسې فېصله وکړي چې حـکـومت او قبائيلي اولس دواړو ته په کښې ګټه او د ملک وحدت او بقا ته په کښې خير او استـحـکـام ورکړے شـوے وي هـم دا بـه د حـکـومتـي کـميټۍ او قبـائـيـلـي اولـس لوئې پرمختګ او د فاټا مسئلې مستقل حل وي.

☆☆☆